په تاسو کې دې هېڅاته مرګ نه راځي، مګر په داسې حال کې چې په الله ښه ګمان ولري

له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې د هغه د مرګ نه درې ورځې مخکې اوربدلي چې ویيل يې: «په تاسو کې دې هېڅاته مرګ نه راځي، مګر په داسې حال کې چې په الله ښه ګمان ولري».

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مسلمان دې ته هڅوي چې هغه دې نه مري مګر په داسې حال کې چې په الله ښه ګمان ولري، داسې چې د ځنکدن پر مهال پرې د هيله مند اړخ غالب وي چې الله تعالى به پرې رحم کوي او بخښي به يې، ځکه چې د عمل د ښه والي لپاره ويره اړينه ده، او هغه چې کوم حالت دی (ځنکدن) هغه د عملونو حالت نه دی، نو بايد چې د هيله مند اړخ پکې غالب وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3779